مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۰/۰۸/۲۶

# سیلاوونه او ویرونه

خړو خړو خونړیو سیلاوونو
پرسر یووړل رانه ځومره په اسانه

د کوشني خواره ماشوم په پسته غېږ کې
شنه انګور د شمالي له تاکستانه

یا لنبې دي یا باروت دي یا توپان دی
یا دې وړي رانه اوبه افغانستانه

ډېر نومونه مې په تا باندي تپلي
هدیره د زورورو په سرو وینو کې روانه

کله کور شې د زمریو یا پړانګانو داړورو
خیر دې ونه لیده هېڅ له خپل «انسانه»

هره ورځ د شهادت په ارمان مړ یم
د ژوند مینه ځکه هېره ده له ما نه

هی ارمان چې مې یو ځل وای غږ ایستلی:
تا کې «ژوند» غواړم زما «انسانستانه»!




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ